د افغانستان اسلامی جمهوري دولت
دعدلي وزارت
دملي ثبات ټولنه

د ولت جمهوری اسلامی
افغانستان
وزارت عدلیه
انجمن ثبات ملی

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Justice
National Stability Society

Date: 1394-12-06

د ټاکنو خپلواک کمیسیون لخوا د وروستیوو پایلو اعلان په اړه د ملي ثبات مطبوعاتي اعلامیه.

د روان کال دکب په 5مه نیټه چې دټاکنو خپلواک کمیسیون لخوا د ولسمشرۍ دویم پړاو ټاکنو وروستۍ پایلې چې باید هماغه مهال دهیواد دنافذه قوانینوو له مخې د رسنیوو له لارې د افغانستان شریفو ولسونو ته اعلان شوې وای درسنیوو له لارې دټولو جزیاتو سره او داوږده ځنډ وروسته اعلان او هیوادوال یې د خپلو رایو سرنوشت څخه خبر کړ.

که څه هم دټاکنو خپلواک کمیسیون هماغه مهال ولسمشر اشرف غني ته د رسمي باور لیک له مخې د ترلاسه کړو رایو فیصدي او دقیق شمیر د منتخب جمهور ریس په توګه رسمي سند ورکړ، خو هماغه مهال متاسفانه دنوماندانو سیاسي جوړجاړي،دکورنیوو او بهرنیوو سیاسي فشارونو او کشمکشونه له مخې د ټاکنو دقیقه پایله د ټولو جزیاتو سره د ګټوونکی او بایلوونکی نوماند دترلاسه کړو رایو په معلوملولو سره بشپړ ارقام دټاکنو کمیسیون اعلان نه کړل او د اساسي قانون خلاف سیاسي موافقت نامې ته لومړیتوب ورکړ، چې له مخې د ولسمشر ترڅنګ اجرایه ریاست په نوم ناتجربه شوی پوست رامنځته چې پدې توګه دملي وحدت حکومت په نوم دواړو ټیمونه دسهامي شرکت په خیر په حکومت کې پنځوس پنځوس سره شریک شول.

که څه هم دټاکنو خپلواک کمیسیون لخوا دیونیم کال ځنډ وروسته د وروستیوو پایلو ځنډنی اعلان د قانون اودخلکو پرواندې کمیسیون د خپل تاریخي مسولیت څخه نه شي مبرا کولی او باید هماغه مهال دګنوسیاسي فشارونو او بهرنیوو مداخلو تر تاثیر لاندې نه وو راغلی، خو نن یوځل بیا د ټاکنو کمیسیون لخوا د وروستیوو پایلو اعلان ثابته کړه چې ګټوونکی او بایلوونکی څوک دی؟د ولس رایوو ته احترام شوی او که په هغې سیاسي قمار وهل شوی؟

همدارنګه دنړیوالې ټولنې مداخلو او د نوماندانو دنامعقوله غوښتنو او نافذه قوانین او لوایح په سل سلنه تفتیش کې ترپښو لاندې کولو وروسته بیا هم پاکې او ناپاکې رایې سره جدا او د ټاکنو اصلي ګټونکی نن هیوادوالو وپیژندلو او دې اعلان ولسونو ته دهغو قدرت طلبو او په واک مینو کسانو څیري هم په ډاګه کړي چې د ولس رایوو پرځای یې دبهرنیانو پښو ته ځانونه غورځول او په خپلو ویښتو او ګریوانونو کې لاسونه اچول ترڅو یوازې ځان په واک کې شریک او دملت اراده تر پښو لاندې کړي.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون ولسونو ته درایوو دمسول ارګان په توګه یې دا ځنډنی اقدام هم دملت او ولسواکۍ په ګټه بولو، دتور او سپین، دحق او باطل ترمنځ دبیلولو او حق حقدار ته سپارلو په موخه یې ملاتړ کوو.

په درنښت

د ملي ثبات ټولنې مشرتابه

National Stability Society
Phone No: 0202512253

Website: http://millisubat.com/https://www.facebook.com/MilliSubat/?ref=hl https://twitter.com/MilliSubat
Email: info.millisubat@gmail.com **د فتر پته: کارته سه،لسم سړک بني لاس ته دویم کور، کابل افغانستان**